

Mazari Sharif
مزار شریف
Kabul
کابل
Herat
هرات
Afghanistan
Anar Dara
انار دره
Farah
فراه
Kandahar
کندهار
Zabol
زابل
Peshawar
پشاور
Islamabad
اسلام آباد
Lahore
لاہور
Quetta
Pakistan
Multan
ملتان
Bahawalpur
Khairpur
Bikaner
Nawabshah
RAJASTHAN

لیکوال : پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ تاریخ 22/01/2008

# د ډیورنډ د توافق لیک پښتو متن

په داسې حال کې چې دهندوستان په خوا کې دافغانستان دسرحدي سیمې په هکله ځینې مسئلې رامنځ ته شوې،او په داسې حال کې دواړه اعلحضرت امیر او دهندوستان حکومت هیله من دي چې دغه مسئلې د دوستۍ په فهم او ددواړو دنفوذ دساحو دحد په ټاکلو سره حل کړي ،تر څو په آینده کې ددغو متحدو حکومتونو تر منځ ددغې موضوع په سر دنظر اختلاف نه وي ، په دې وسیله په لاندې ډول سره موافقه وشوه.

(۱) دوالاحضرت دتوابعو ختیځه او سهیلي سیمه دې له واخان نه دپارس تر پولې پورې دي هغه لیکه تعقیب کړي چې په هغې نقشي باندي ښودل شوې چې له دغه توافق لیک سره مله ده .

(۲) دهندوستان حکومت به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له دغې لیکې نه آخوا دافغانستان په لور پرتې دې مداخله ونه کړې ،او والاحضرت امیر به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له لیکې نه آخوادهندوستان په لور پرتې دې مداخله ونه کړي .

(۳) د برتانیې حکومت په دې ډول موافقه کوي چې والاحضرت امیر دې اسمار او تر چاناک پورې پورته ساحه وساتي . له بلې خوا والاحضرت موافقه کوي چې دی په هیڅ وخت په سوات، باجوړ یا په چترال کې دباشګل یا ارنوایي درې په شمول مداخله نه کوي .دبرتانیې حکومت داسې هم موافقه کوي چې والاحضرت دې دبر مل سیمه ولري کومه چې په هغه مفصلې نقشې کې ښودل شوې چې والاحضرت ته لادمخه سپارل شوې ده،او والاحضرت دپاتې وزیرستان او د داورپه هکله له خپلې ادعانه تیریږي ،په همدې ډول والاحضرت دچاغي په باب له خپلې ادعانه اوړي .

(٤) دسرحدي سیمي لیکه به دافغان او برتانوي ګډو کمشنرانو لخوا له دې وروسته په تفصیل سره وکارله شي او حد بندي به شي په کوم ځای کې چې دتطبیق وړ او مطلوب وي . ددغو کمشنرانو مقصد به داوي چې دسرحد په ټاکلو کې متقابل فهم ته سره ورسیږي داسې چې دغه لیکه دې تر نهایي امکان پورې دهغې نقشې له مخه وي چې له دغه توافق لیک سره مل ده،په داسې حل کې چې د دغې سرحدي سیمې دګانډیوکلیو دموجودو محلي حقوقو رعایت پوره وشي .

(٥) دچمن دموضوع په ارتباط والاحضرت دبرتانوي نوې قشلې په هکله له خپل اعتراض نه تیریږي او برتانوي حکومت ته دهغه حقوق پریږدې چې دسرکې تایلري په اوبوکې یې په خپله په بیه اخیستې و. دسرحدي سیمي له دغه ټکي نه به لیکه په لاندي ډول وکارل شي .
دغه لیکه به پشا کوتل ته نژدې دخوجه امران غروله لوړې نه چې دبرتانیې په سیمه کې به پاته کیږي ،په هغه لور کښله کیږي چې مرغه چمن او دشربو چینه به افغانستان ته پاتې کیږي اود نوي چمن چاونۍ او دافغان پوستې چې خلک یې لشکر ډنډ بولي تر منځ نیمایي پورې رسیږي . دغه لیکه به بیا د ریل وی ستیشن اودهغې پوښتۍ تر منځ چې دمیان بلاک په نامه یادیږي ،تر نیمایي پورې رسیږي او په داسې حال کې چې دجنوب په لور به روانه وي له خوجه امران غرونو سره به بیا یو ځای کیږي .په دې ډول غوښه پوسته به دبرتانیې په علاقه کې او دغوښې په جنوب او لویدیځ کې دشوراواک سرک به افغانستان ته پریږدي . دبرتانیې حکومت به ددغه سړک تر نیم میلي پورې مداخله نه کوي .
(٦) ددغه توافق لیک دغه پورته فقرې دهندوستان دحکومت اودافغانستان دوالاحضرت له خوا دنظر ټول عمده اختلافات چې دسرحدي سیمي په باب ددوی تر منځ پیدا شوي وو ،دپوره او قناعت ښوونکې فیصلې په ډول ګڼل کیږي او دواړه دهندوستان حکومت او والاحضرت په ذمه اخلې چې جزیاتوپه باب ټول اختلاف لکه هغه چې له دې وروسته به دهغو منصبدارانو له خوا پرې غور کیږي چې دسرحدي خط دحد بندۍ دپاره ټاکل کیږي ،ددوستۍ په روحیې سره به فیصله کیږي .د دې دپاره چې تر هغو چې ممکنه وي د دواړو حکومتونو تر منځ دشکونواو غلط فهمیو سببونه له منځه ولاړ شي .

(۷) دهندوستان حکومت چې دبرتانیې حکومت په نسبت دوالاحضرت له روغ نیتۍ نه په پوره ډول ډاډ من شوی او غواړي افغانستان پیاوړی او خپلواک ووینې دوالاحضرت لخوادجنګي لوازموپه رانیولواو واردولوباندې به اعتراض ونه

کړي ،او دوی به په خپله دغه په هکله ښه مرسته ورسره وکړي .برسېره پردې د دې دپاره چې دوالاحضرت دهغې دوستانه روحیې نښه وساتل شي چې په دغو مذاکراتو کې یې ښودلې دهندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغه دولسو لکو کې شپږ لکه روپۍ زیاتې راوستل شي چې والاحضرت ته هر کال دمالېې مرستې په ډول ورکول کیږي .

هنري ماتمر ډیورنډدهندوستان دحکومت دباندنیو چارو وزیر
امیر عبدالرحمن خان دافغانستان او دهغه دتوابعوامیر
کابل دنومبر 1893.12


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

www.ketabton.com